مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۳۹** (از ۱۴ الی ۲۱ دلو ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

### فقر او بې‌کاري او د افغانانو اقتصادي کړوالي

په افغانستان کې بې‌کاري او بې‌وزلي ........ ۳

اقتصادي کړوال ........ ۴

د افغان اقتصادي کړوالو وضعیت ........ ۵

افغان دولت څخه کولی شي؟ ........ ٦

# فقر او بې‌کاري او د افغانانو اقتصادي کډوالي



تېره اوونۍ نړیوال بانک په یوه تازه خپاره شوي راپور کې وویل، چې په افغانستان کې به د کاري فرصتونو د کمښت له کبله ډېر ځوانان د هېواد پرېښودو او په نوره نړۍ کې د کډوالۍ ژوند ته زړه ښه کړي. د دغه راپور له مخې، په افغانستان کې د ناوړه اقتصادي وضعیت له کبله په ۲۰۱۵م کال کې ۲،۲۵ میلیونه افغانان په نورو هېوادونو کې د اقتصادي کډوالو تر نامه لاندې ثبت شوي وو. راپور دغه راز کاږي، چې په افغانستان هر کال کابو ۴۰۰ زره کسان د کاروبار بازار ته ور زیاتېږي او دا هغه څه دي، چې د تېر په څېر به نورو هېوادونو ته د افغانانو د ناقانونه کډوالیو کچه لوړه کړي.

پر دې سربېره، څه باندې یوه میاشت وړاندې (د ۱۳۹٦ د مرغومي په ۵مه) د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزیر فیض الله ذکي هم اندېښنه ښودلې وه، چې که افغان دولت او خصوصي سکتور د بې‌کارۍ بحران ته کړه تدابیر ونه‌نیسي، تر راتلونکو پنځو کلونو پورې به افغانستان ۴ میلیونه وزګار وګړي ولري.

ګاونډیو هېوادونو او نورې نړۍ ته د افغانانو پراخه کډوالي له تېرو څو لسیزو راهیسې هغه مهمه موضوع ده، چې تر ډېره په هېواد کې د جګړو او ناامنیو ترڅنګ، د کاري فرصتونو له کمښت او ناوړه اقتصادي وضعیت سره هم کلک تړاو لري.

دا چې په افغانستان کې د بېکارۍ او بېوزلۍ وضعیت څه ډول دی، په نورو هېوادونو کې د افغانستان اقتصادي کډوال په څه وضعیت کې دي او حکومت ته په دې برخه کې څه کول پهکار دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

## په افغانستان کې بېکاري او بېوزلي

ناامني، بېثباتي، اداري فساد، کمزورې حکومتولي، د نفوس زیاتوالی او له نورو هېوادونو څخه د افغان کډوالو بېرته راستنېدل هغه عوامل دي، چې له کبله یې په هېواد کې د بېکارۍ او بېوزلۍ کچه خورا لوړه ده.

د پخواني شوروي اتحاد له یرغل راوروسته او بیا د کورنیو جګړو له امله په تېولیز ډول په هېواد کې د بېکارۍ او بېوزلۍ کچه مخ په لوړېدو شوه، هغه مهال سلګونه زره افغانان ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شول او خپل کاروبارونه او پانګې یې له لاسه ورکړې.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، سره له دې چې افغانستان ته د نړیوالې ټولنې د مرستو میلیارډونه ډالر راغلل؛ خو بیا هم په هېواد کې د بېکارۍ او بېوزلۍ کچه لوړه پاتې شوه.

په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې په ټولیز ډول ۳٦،۳ سلنه افغانانو د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند تېراوه. د نړیوال بانک او افغان دولت د یوه ګډ راپور له مخې، چې څو میاشتې وړاندې خپور شو، په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې دغه وضعیت د خرابېدو په لور روان و او په دغو کلونو کې د بېوزلۍ سلنه ۳۹،۱ ته لوړه شوې وه.[1] په دغه ګډ راپور کې بېکاري، د جګړو تودېدل او د نړیوالو مرستو کمېدل د بېوزلۍ د کچې لوړېدو مهم لاملونه بلل شوي وو.

[1] The world bank, http://www.worldbank.org/en/news/press-release/2017/05/08/poverty-afghanistan-rose-amidst-troop-withdrawal-poverty-update-2017

له ۲۰۱۴ کال وروسته که څه هم په دې برخه کې کومه دقیقه څېړنه نه ده خپره شوې؛ خو ګڼو لاملونو ته په کتلو سره دا وضعیت د خرابېدو په لور روان و. په دې موده کې جګړو زور اخیستی، بې‌کاري خپل اوج ته رسېدلې، نړیوالې مرستې د پخوا په پرتله کمې دي، له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان څخه سلګونه زره کډوال راستانه شوي او د کورنیو بې‌ځایه شوو کډوالو شمېر هم لوړ شوی دی. د دې ترڅنګ په دې موده کې سلګونه زره افغانان د اروپا په لوري تللي او دا ټول هغه څخه دي، چې په تېرو دریو کلونو کې د بې‌وزلۍ د کچې د لوړېدو ښکارندویي کوي.

پر دې سربېره بې‌کاري، چې د بې‌وزلۍ یو اصلي لامل ګڼل کېږي، ورځ تر بلې په زیاتېدو ده. د نړیوال بانک د راپور له مخې، په ۲۰۰۱م کال کې د افغانستان د ټولې کاري قوې ۴،٦ سلنه یې بې‌کاره وو. په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو کې دا کچه ۴،۹ سلنه وه؛ خو په ۲۰۰۵ کې بیا ۸،۵ سلنه ته لوړه شوه او تر هغه وروسته د بې‌کارۍ کچه ورځ تر بلې د لوړېدو په حال کې وه.[2] د دغه راپور له مخې، یوازې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴م کلونو کې نږدې دوه میلیونه افغانان وزګار وو.

## اقتصادي کډوال

اقتصادي کډوال هغو کډوالو ته ویل کېږي، چې د کډوالۍ تر شا یې اقتصادي لاملونه ولري او د کاري فرصتونو د ترلاسه کولو په موخه خپل هېواد پرېږدي او نورو هېوادونو ته د پیسو ګټلو په موخه ځي.

په نړیواله کچه هغه هېوادونه، چې اقتصادي وده یې کمه وي او خپلو خلکو ته په هېواد کې دننه کاري فرصتونه نه شي برابرولی، هڅه کوي چې په نورو پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې، خپلو خلکو ته له قانوني لارو د کار کولو زمینې برابرې کړي.

اوسمهال ډېری آسیایي هېوادونو د کارګرو د قانوني کډوالۍ په برخه کې د ځینو تګلارو له مخې، د نړۍ په نورو هېوادونو کې د خپلو کارګرو لپاره د کارموندنې او مسلکي مهارتونو د زده‌کړې زمینې برابرې کړې دي؛ خو افغان دولت په دې برخه کې پام‌وړ ګامونه نه دي اوچت کړي.

---

[2] «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې»، د تېرې یوې‌نیمې لسیزې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څېړنیز او تحلیلي راپور، مخ: ۲۲۹، د چاپ کال: ۱۳۹۵ هـ ش.

د افغان کډوالو ډېره برخه په دوو ګاونډیو هېوادونو ایران او پاکستان کې ده، چې په ځانګړې توګه ایران ته تلونکي افغانان تر ډېره د کار په موخه له قاچاقي لارو ځي او له همدې کبله هلته د ناراجستر کډوالو شمېره هم تل زیاته ده. په بل اړخ کې د ۲۰۰۷ کال شمېرې ښیي، چې په صنعتي نړۍ کې هم تر ۱۰۰ زره زیات اقتصادي کډوال مېشت وو او دا شمېره له ۲۰۰۸ کال راوروسته د لوړېدو په حال کې وه؛ خو د ملي یووالي حکومت په دوره کې د تېرې یوې‌نیمې لسیزې په پرتله ډېره لوړه شوه.

## د افغان اقتصادي کډوالو وضعیت

د نړیوال بانک د وروستي راپور د معلوماتو پر بنسټ، د شوروي اتحاد د یرغل او د کورنیو جګړو پر مهال له افغانستانه ۹۵ سلنه کډوالي، د جګړو او سیاسي کړکیچ له کبله ثبت شوې ده؛ خو له ۲۰۱۵ کال راهیسې په نورو هېوادونو کې ۵۰ سلنه افغان کډوال د اقتصادي کډوالو تر عنوان لاندې ثبت شوي دي.

د دغه راپور له مخې، په ۱۹۹۰ کال کې ۳۸۰۰۰۰ تنه افغان کډوال، چې د اقتصادي موخو لپاره یې خپل هېواد پرېاېښی و، ثبت شوي وو. په ۲۰۰۰ کال کې دا شمېره نږدې یو میلیون تنو ته رسېدلې او په ۲۰۱۵ کال کې بیا ۲،۲۵ میلیون تنو ته لوړه شوې ده. دا شمېره ښیي، چې په تېرو ۱۵ کلونو کې هر کال شاوخوا ۸۵۰۰۰ افغانان د اقتصادي موخو لپاره کډوال شوي دي.[3]

افغانستان هغه هېواد دی، چې په بېلابېلو هېوادونو کې سلګونه زره اقتصادي کډوال لري او زیات شمېر یې په سختو او غیرمسلکي کارونو بوخت دي. دغه کډوال که څه هم د هېواد په اقتصادي وده کې مثبت رول لري او په افغانستان کې د خپلو کورنیو لګښتونه برابروي؛ خو په نورو هېوادونو کې له ګڼو ستونزو سره هم مخ دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- په ټوله کې افغان دولت نورو هېوادونو ته د کارګرو او اقتصادي کډوالو د لېږد لپاره یو منظم سیستم نه لري او له همدې امله ډېری افغانان په ناقانونه توګه له هېواده بهر د کار کولو لپاره تللي او ځي.

[3] The world bank: http://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/labor-migration-can-help-boost-afghanistans-growth

- له ناقانونه لارو تلونکي کډوال که له یوې خوا د تګ پر مهال د مرګ له ګواښ سره مخامخ وي، له بلې خوا په نورو هېوادونو کې هم ډېری وختونه ځورول کېږي، له محکمو پرته زندانونه تېروي او ان په کوچنیو جرمونو اعدامېږي.
- د ځینو هېوادونو له لوري له افغان کارګرو څخه د پیسو او نورو امتیازاتو په مقابل کې د جګړو په لیکو کې ګټه اخیستل کېږي.
- په افغاني پاسپورټونو، کارګرو ته د وېزو نه ورکولو ستونزه، چې تر ډېره له عربي هېوادونو سره ده، لاهم شته ده. په دې برخه کې د بېلګې په توګه سعودي عربستان د افغانستان له اجرائیه رئیس سره ریاض ته د نوموړي د سفر پر مهال ژمنه وکړه، چې افغان کارګرو ته به افغاني پاسپورټونه توزېع شي؛ خو دا ستونزه لا هم حل شوې نه ده.
- دغه راز په نورو هېوادونو کې زیاتره افغانان په سختو کارونو کې بوخت دي او د کارګرو له قانوني او نړیوالو حقونو څخه برخمن نه دي.

## افغان دولت څخه کولی شي؟

په افغانستان کې د جګړو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله کمه اقتصادي وده، د نفوس زیاتوالی او له نورو هېوادونو د کډوالو بېرته راستنېدو ته په کتلو سره ښکاري، چې د بې کارۍ کچه به نوره هم لوړه شي.

نورو هېوادونو ته د اقتصادي موخو لپاره د افغانانو کډوالي یوه له هغو لارو چارو ده، چې په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ په راټیټولو کې اغېزناک رول لري. افغانستان یو له هغو هېوادونو دی، چې اوسمهال یې د ۱٦ سلنه کورنیو اقتصادي وضعیت د همدغو کډوالیو له کبله په نسبتا ښه حالت کې دی؛ خو دا چاره د دولت ځینو اقداماتو ته اړتیا لري، چې یو شمېر یې په لاندې ډول دي:

**لومړی**؛ افغان حکومت د نړۍ په ښه اقتصاد لرونکو هېوادونو کې، خپلو خلکو ته د کاري فرصتونو د موندلو په موخه د بازارونو څېړنه او ارزونه وکړي.

**دویم**؛ له ښه بازار لرونکو هېوادونو سره د افغان کارګرو لپاره د کاري فرصتونو په موخه هوکړه‌لیکونه لاسلیک شي او افغانانو ته زمینه برابره شي، چې له قانوني لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار کولو لپاره ولاړ شي.

**دریېم**؛ د اقتصادي کړوالی د مدیریت لپاره یو منسجم او اغېزناک سیستم رامنځه شي، ترڅو دا چاره په منظمه او بنسټیزه توګه د خلکو په اقتصادي وضعیت کې ښه‌والی راولي او په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ د کچې په راټیټولو کې لا ډېر اغېزناک پرېوځي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.